
هلته مې زړه زرې زرې پروت دی

# غزل

هغه چې داسې دوه ، درې شپې پس ماتوي زړونه
هغې ته نه ښکاري د خپل مړوند بنګړي زړونه

د رنځورانو په ښيرو خو مې پيرزو نه شي
سترګې دې پوهې کړه چې نه ازار وي زړونه

د هغو وايه چې بې تا يې شپه سبا هم کړه
زموږ خو مه وايه زموږ درپسې چوي زړونه

په کومو لارو باندې راغلې او په کومو ځې؟
هلته به مړي وي پراته ، هلته زخمي زړونه

نه درنه غاړه ، نه کوم بل نعم البدل غواړم
د خداې په نوم کله څوك چا ته ورکوي زړونه؟

چې وو روان په ماته ملا، و قبرستان وطن
اوس چې پريوځو اوس غړونه راکوي زړونه

لږ ورته غوږ شه دا غزل به د جلال نه وي؟
دا چې په بيت بيت کې د خلکو څنګوي زړونه

# غزل

ورته موسکۍ شوې ، د غزل یوه مصره دې ورکړه
شاعر دې مړ و خو د ژوند نوې اسره دې ورکړه

سړو نیولي دي رپیږي زما زړه خدیجې!
که په کاله کې نور څه نه وي لوپټه دې ورکړه

همدا یوه ارواه چې تا سره په جنګ اخته وه
زما وجود ته هم هغې باندې قبضه دې ورکړه

د زندګۍ عذاب یوازې په غنم نه منم
رښتیا به وایې د کوم جرم جرمانه دې ورکړه؟

زمانې مه کوه نور ، جبر خو به حد هم لري
په ائېنو پسې چې ړوند شو ائېنه دې ورکړه

بس خو په سپینه کلیمه باندې دې تیر ویستلو
نور خدای خبر دي چې د کوم مذهب جنډه دې ورکړه

ګور به یې هم لکه جلال شي توري خاورې ، خیر دی
که بې نامې شو لا نه پاتې که نامه دې ورکړه

www.sikaraam.com

# غزل

يه په تياره ماحول کې لمره ، وارخطا دې کړمه
سترګې دې پرانيزه دلبره ، وارخطا دې کړمه

په سترې ورځ به مو د سترې زړه تکيه په تا وه
زما د سترې قام رهبره ! وارخطا دې کړمه

ځاي خو راوښيه چې بيرته خو خپل ځان راتول کړم
له کوم ګړنګ ، له کوم کمره وارخطا دې کړمه

زه اوس په چا پورې زړه وتړم ، په څه راتول شم
د ارزښتونو سوداګره ! وارخطا دې کړمه

ليوني کيږم ، خوب کې هم چغې د زخم اورم
د خپل ارمان د غره له سره وارخطا دې کړمه

# غزل

دا نوي رنګ په دې ګلاب غزل کې څه و چې و
دا خو زما د زړه د زخم تېوکیده و چې و

له جنګه پس دلته ژوندي فکر بیا پاتې نه و
او هغه هم د مرګ په خوب باندې ویده و چې و

ما ورته وېل چې بې له تا خو قیامت و په ما
سترګې یې پټې کړې په اوښکو وېل یې ښه و چې و

هغه هم ستا په اراده شو ، هغه هم پرېښودم
زما په ټوله زندګۍ کې دا یو زړه و چې و

د ماشومتوب په کیسو ټوله فلسفه ختمه ده
مور به مې وې چې یو پاچا و چیرته نه و ، چې و

په یوه کس پسې مې زړه وکړې لمبې چې نه و
په یوه کس پسې مې زړه اوبه و چې و

جلاله ! ستا د رسوایۍ کیسه چا نه وه کړې
خو ستا غزل و په دې ښار کې خوله په خوله و چې و

www.sikaraam.com

# غزل

زما په خاوره بې له دې نه بل ستم نه و
هر سړي ډوب و په خپل غم د بل په غم نه و

مور مې ویده وه ، وار خطا شوم ، بیا مې وشمارل
شکر ژوندۍ وه ، په اسمان کې ستوري کم نه و

زموږ تولګي ته د دنیا عجب مخلوق راته
څوك بې کتابه و له چا سره قلم نه و
تا وې جناب زړه دې په خپل ټټر کې وګوره
ما وې بیګا مې و کتلي محترم نه و
عشق هغه مار و چې په ټك یې توري خاورې کړم
چې د جهان له پاړوګر سره یې دم نه و

ملنګ شاعر وم خو د دور نقادانو کې
کوم قلندر ، کوم دستګیر غوث الاعظم نه و

جلاله ! دلته هر سړي څکه په منډه و
دم په حساب و خو حساب مو په قدم

# غزل

نه به راتلمه که خبر خو درنه ګوره! ومه
هلته هم تنګ د خپل ګاونډ له شور ماشوره ومه

هغه فریاد وم چې له ماتو زړونو وختمه
هغه غزل وم چې بې ټنګه بې ټکوره ومه

څنګه به نه تړل کیدې په ځنځیرونو باندې
چې په زیارت به ورته شپه ورځې سرتوره ومه

زه نه تړلې ، پښې تړلې درته بیرته راغلم
چې تلم قسم دې که خبر به دې له زوره ومه

شکر چې خاوره وم چې ټول مې په سینه کې ساتل
شکر چې نه خو له اوبو او نه له اوره ومه

زما د کټ په بازوګانو به خولې نه لګوې
زه هم هغه یم چې شړلې دې له کوره ومه

جلاله ! یو ځلې هغه ورځې دریادې خو کړه
چې ستا په سر به زه هر وخت خفه له موره ومه

# غزل

جوړې مجرم د ژوندانه يې په کې
په دغه ښار کې چې ويده يې په کې

ما وې که زه مينې کوزګورې کړمه
ته خو هم سر په زنګانه يې په کې

زړه مې له خپله زړه نه مه توروه
دا راته مه وايه چې ته يې په کې

خاورې ! دنيا ده هو د ځمکې خو ته
د سرېتوب له اسمانه يې په کې

ما په خندا و درکتلي لاس ته
تا په ژړا ووې چې نه يې په کې

منم د شعر مې مينه والې ډېرې
خو ته مې ځان يې ته مې زړه يې په کې

جلاله ! نور هر څه کې بد يې خو بس
يوازې شعر دې دي چې ښه يې په کې

# غزل

هر څه په زړه کېږي ، په سترګو او لاسونو نه ده
د زلیخې کیسه د هیڅ چا هم په زړونو نه ده ؟

ځار ، خو زما د محبت مجبوري هم وګوره
دا مرحله زما په شعر ستا د نقدونو نه ده

حسن زمونږه سوي سوي زړونه ښه پیژني
دا کیسه ستا د فلسفې د کتابونو نه ده

ما وې دا داغ مې په زړه ولې ، په سلګو شوې راته
نه دا پوښتنه مې د دغو ځوابونو نه ده

ما ته قسم مه کوه زه درنه دلیل غواړمه
زمونږ لانجه ګوره په خداي او قرانونو نه ده

هغه ته ووايئ چې خپل عبادت خپله کوي
ځمکه نوکره نور د چا د اسمانونو نه ده

جلاله ! ستا د بدنامۍ کیسه لا نه ده رسوا
لا لیکل شوې د دې ښار په دیوالونو نه ده

# غزل

نشه نشه راتلم درتلم ، نشه نشه راتلم
که تلم راتلم هم خو اخر په میکده راتلم

خو ستا په نوم وه په رکوع که په سجده راتلم
چې ستا له کوره به بیا هم ولې خفه راتلم ؟

هسې مې سترګو ته قسم د کعبې ودریده
هسې ماښام چې ښار کې ستاسې په کوڅه راتلم

که به مې لاس او پښې هم نه وې وجود پورې
لکه د مار به دې نغمو ته په سینه راتلم

چې د رڼا له منارې سره به ودریدم
زه به د خپل قد د سایې په اندازه راتلم

هر امتحان کې به یې وینه راکې کمه کړه
هر امتحان کې به بیا هم ورته پوره راتلم

زما په یاد نه دي ، وروستۍ ساه کې یې څه ووې؟
په مړو مړو شونډو یې جوړ زه لکه تپه راتلم ؟

بیابانونه خو جلاله ! راته ګرد نه ول
د چا د غرونو غرونو زلفو په سایه راتلم

# غزل

څه په ګمنامو لارو زه درنه راغلي يمه
بې زړه درغلي وم بې زړه درنه راغلي يمه

وايه څه چې څومره درد به وي تير شوي په ما
زه چې په شپه د بارانه درنه راغلي يمه

چا پسې مړاوې ګورې ؟ هغه زه خو نه يم
چا پسې چغې وهې ته ؟ درنه راغلي يمه

زه که په ويښه يم راغلي نو ژوندي څنګه يم ؟
شايد په خوب کې به ويده درنه راغلي يمه

لمدې لمدې لښتې به ستا د پيغلتوب وچې شي
زه چې په زړه اوبه اوبه درنه راغلي يمه

تا د غنم بوټې نو ولې راليږه ځمکې ته
په همدې تور له اسمانه درنه راغلي يمه

جلاله ليه کړه چې ځمکې ته و نه غورځېږم
نور لکه اوښکه پر باڼه درنه راغلي يمه

# غزل

ساه ډوبې ده ، ساه ډوبې ده ملايکې !
بس همدا مو زندګي ده ملايکې !

لا انسان يم ، لا شپيلۍ ته خوله ور نه وړې
لا وخت شته دی، لا وختې ده ملايکې!

ته چې شپه او ورځ حساب راپسې ليکې
جوړ همدا دې مزدوري ده ملايکې !

چې ويده شم ، ته مې سر ته راشې کينې
ستا له چا سره سيالي ده ملايکې !؟

سترګې پټې کړه ، له تا مو سترګې سوځي
مونږ راخستې بې شرمي ده ملايکې!

تا سره تر اسمانونو تللې نه شم
د دې خاورې بې وسي ده ملايکې !

جام په لاس جلال ته څه ليکې په خط کې
او سجده يې په تندي ده ملايکې!

# غزل

دا ته چې زړونه ماتوې په مازيګر کې د چا
څه به څواب وايې په ورځ بيا د محشر کې د چا

ښايي چې اوس د ډېرو زړونو ته کيوتي يمه
زه چې دا ډېره موده نه راڅم نظر کې د چا

مونږ ميکدو کې چغې جوړې کړې د جبر خلاف
شونډې ګنډلې وې ، غږ نه خوت په ممبر کې د چا

د دې يارانو په وجدان مې تهمت مه لګوئ
دوي کمبختان دي راګير شوي په منتر کې د چا

مونږ له تندي نه د هغه سړي بيرغ تاوو
څوک چې ميخونه ټك وهلي شي په سر کې د چا

سپوږمۍ ماښام نه تر سهاره پسې ډوبه ګرځي
چې دا تصوير ورنه ورك شوي سمندر کې د چا ؟

جلاله زه ورنه بس تش کالبوت راغلي يمه
سترګې او زړه رانه پريوتي دي په ور کې د چا

# غزل

شونډې دې پرانيزه ما پوه کړه، شکايت څه دي؟
که محبت نه دي دا ، وايه محبت څه دي؟

زما ذره ذره وجود ستا عبادت کوي
زه نور خبر نه يم شرك څه دي وحدانيت څه دي

تا د دنيا په خاطر لاس راکړ چې مړ نه شم
ته اوس د خداي په خاطر وايه قيامت څه دي؟

ما ورته وې خپلې خبرې په خپل رنګ وکړئ
زما يارانو ما ته وې شعر کې جدت څه دي؟

زلفې دې تورې وې، بيا سپينې شوې، بيا خاورې شوې
زما د ژوند ، له دې نه غير بل حقيقت څه دي؟

ما تجربه ستا د بيلتون او وصل کړې ده
زه ښه خبر يم چې دوزخ څه دي جنت څه دي

ته ولې هر چيرته په نه کار کې هم کار لرې؟
جلاله تا باندې راغلې مصيبت څه دي

# غزل

مړاوې شمعې به لمبې راته کولې
چا د سترې ژوند کيسې راته کولې

ما د زړه د رباب رګ ته ګوتې وروړې
تا چې داسې زمزمې راته کولې

خپلې مور خو مې دعا راته کوله
چا که هر څومره ښيرې راته کولې

ستا انکار نه پس بيا ځان سره چې مخ شوم
ستا خبرې ائينې راته کولې

تا به ما سره خبره واي منلې
تيراوالو به جرګې راته کولې

ما يې مړې د احساس ورته ژړلو
دوي زما د خولې پيښې راته کولې

زه به ستا د کور نوکره وم جلاله !
تا به خپلې يارانې راته کولې

# غزل

نه دې دعا نه دې سلام راغي
ستا له محفل نه خاص و عام راغي

شونډې د ګل کړلې موسم زخمي
وحشته تا باندې الزام راغي

څوك په شرابو ، څوك په پښو پریوت
په چا پیریان په چا الهام راغي

نن چیرته ورځ د قیامت نه وي
هغه رانغله خو ماښام راغي

په اسمانونو لالهانده وم
ځمکې ته پریوتم ارام راغي

چې جینکۍ ورنه تعویذ کوي
دا په غزل مې کوم مقام راغي

جلاله ! بیا یې په کوڅه راغلم
خلکو وې بیا هغه بدنام راغي

www.sikaraam.com

# غزل

چې زمانه لکه هغه پرې مهربانه نه وه
یو څوک د چا په مینه هسې بدګمانه نه وه

زما په غیره کې بیګا یوه جینۍ ویده وه
پاس په اسمان باندې بیګا ماهِ تابانه نه وه

هغې چې داسې په قدم قدم پښتو کوله
هغه خبره جوړ د عشق له امتحانه نه وه

ما دې په سترګو کې د حسن کائېنات ولیدل
د دې وسعت کیسه خو دغلته پایانه نه وه

مورِ اخر ولې تر قیامته ستا احسان وړي وای؟
زمونږ خو برخه وه له ځمکې ، له اسمانه نه وه

دا خو زما د غزل زور و چې بې سوره یې کړه
هغه له خپله ځانه دومره خرامانه نه وه

جلاله ! نه به راتلې ، ما درته زارۍ کړې وې؟
بغیر له ما نه خو دنیا درباندې ورانه نه وه

# غزل

د ازادۍ په کاروانونو کې جرس هم یم
لکه طوطي یې بندي کړي په قفس هم یم

تا ته چې ژاړم چې ما مه پرېږده دا عشق هم دي
او دروغ به څه وایم، په غم د خپل هوس هم یم

وخت و چې ما به شونډې پرانستې، زخمي به شوې
وخت دي چې زه یې خندولي په کړس کړس هم یم

لکه کچه ګهړۍ، چې ته وې نو اباد ومه
له تا نه مخکې هم صحرا وم، تا نه پس هم یم

چې په سینګار کې درنه هیر شوم هغه هم زه یم
چې په هنداره کې درياد شوم هغه کس هم یم

که مې پخوا په تا حکمونه چلولي دي
اوس خو په پښو کې درته پروت لکه د خس هم یم

جلاله! کاښي ماتوم چې دنیا جوړه کړم
او له دنیا نه د سفر په بندوبس هم یم

# غزل

راشي خندا په ګردشونو د ايامه پورې
چې تعلقات مو رالنډ شوي تر سلامه پورې

مينې ته مه راوړه خبرې د ثواب او عذاب
هره کيسه خو سرې نه ترې اسلامه پورې

د بې وسۍ منظر هم ګوره، چې بې چتره بيرته
سيل د سکڼو ځي له بهر نه تر باګرامه پورې

ژوند له زانګو نه تر لحده ستا د فکر نه دي
عمر دې مه شه له يو جام نه تر بل جامه پورې

ما ته چې ګوري زمانه ، زما له رنګه سوځي
ليونۍ کيږي ستا د زلفو په الزامه پورې

دلته اوس ميندې په نفلونو خپله ساه اوږدوي
چې يې زامن کور ته را نه شي تر ماښامه پورې

ما ورته چغه کړه جلاله ! چې ستم د چا و؟
ويل يې صبر د کيسې تر اختتامه پورې

www.sikaraam.com

# غزل

تا پسې تېرې زمانې لټوي سترګې زما
په ائېنو کې ائېنې لټوي سترګې زما

په ملاذان به له جنت غېږې دنیا ته وځم
او د غنمو به دانې لټوي سترګې زما

ستا د امیل خبره نه ده چې حیران پاتې شوم
دا خو مې زړه ستا په سینې لټوي سترګې زما

چیرته څوك ستړي د صنم له زړه نه رحم غواړي
چیرته په کاڼو کې چینې لټوي سترګې زما

په میکدو کې مې په هر ګوټ کې زړه تا لټوي
او په جومات کې پیمانې لټوي سترګې زما

که هغه ته نه یې نو وایه تر سپوږمیه پورې
د چا د پلونو نښانې لټوي سترګې زما؟

جلاله ! ډېرې دي غزلې خو چې نه پټیږي
لال و مرجان و دردانې لټوي سترګې زم

# غزل

بس لکه زه ذرې ذرې پروت دي
هلته مې زړه ذرې ذرې پروت دي

د وصل غیږه کې راتول سړي
په بیلتانه ذرې ذرې پروت دي

د چا انکار مې زړه شیندلي دي
کاڼي د غره ذرې ذرې پروت دي

هغه امیل ، زما د لاس نښه
په تناره ذرې ذرې پروت دي

فکر مې سترو ته په دښتو کې
اوبه ، اوبه ، ذرې ، ذرې پروت دي

زما غزل په هغو سترګو کې
لکه رانجه ذرې ذرې پروت دي

جلال راغلي ستا له کاره دي
ویده ویده ذرې ذرې پروت دي

# غزل

د تقدير څرخ زموږ په خير او که په شر ودريد
زموږ په دور چې راتګ د پيغمبر ودريد

چا وې ، له ځان سره هر څه وړي دريابي سترګې
زما خو خدايږو په کې ځاي په ځاي نظر ودريد

حاسده ! اوس رانه په هر ځاي ټکوه تندي
ښه شوه يو څوك خو درته مخکې لکه غر ودريد

چې د کوتې تيران مې مات شول بې پردې نه شوم
ستا له قدرته ځآر اسمان راته په سر ودريد

منصوره ! هغه زمانه ستا د نظر نه وه
راشه اوس غږ وکړه چې تا پسې لښکر ودريد

هله به ومنم رښا چې حقيقت لري
چې د هر چا سيوري د خپل قد برابر ودريد

مورجانې خير دې نن تنور لمبه کوې نه شم
جلال کمبخته مې بيا سترګو ته نهر ودريد

# غزل

که چا ګټله ، که په سترګو یې بایلله دنیا
د هر چا خپله زندګي د هر چا خپله دنیا

مونږ بې خوبۍ لیونې کړې وو مونږ نه وو خبر
خلکو د سترګو په خوبونو کې ساتله دنیا

تا ورانولې زلفې تا به جوړولې زلفې
(تا ورانوله دنیا تا به جوړوله دنیا)[1]

زما په دې دنیا یوه جوړه جامې ډیرې دي
بله جوړه به ځان ته وګنډم په بله دنیا

خود به په لږ غوندې باران د قیامت ورانیده
چې په پنسل دې په کاغذ کې رسموله دنیا

په یوه لاس باندې یې ورو ورو زنګوله زانګو
او په بل لاس باندې یې ورو ورو زنګوله دنیا

جلاله ! زه یې تورې خاورې کړم نابود یې کړمه
هم هغې مینې چې هر چا حسابوله دنیا

# غزل

خوله دې په ګل حساب ، خندا دې په سپرلو حساب
راشه چې درکړم درته زه هم د پښتو حساب

ته اول راکړه د دې نن ورځ د قيامت حساب
له مونږ نه بيا غواړه د تيرو زمانو حساب

چې چېرته ځې ما نه تپوس کدرې هم نه کوې
تا په ژوندوني باندې زه کړمه په مړو حساب

په ديوالونو باندې کرښې ته نور ځاي نه شته
دومره مې وليکه پرې ډير ستا د نيتو حساب

ګيله مې بيا هم په زړه راغلله خو خير دې څه
سل په لالي پورې يوه يې په بنګړو حساب

زه دې هم راوستم اخر تر سمندر پورې
څمکه دې هم کړله جانانه په اوبو حساب

جلاله ! تا پسې مې تورې سترګې سپينې شوې
ما نه خطا وته د ورځو او د شپو حساب

# غزل

ماتیده چې نه ، خو وه به پښتنه نه
شرمیدله ستا له سترګو ائېنه نه

زه مجبور شوم چې پر لار ورسره لاړ شم
زما لارې ته راتلله زمانه نه

څه یو وخت و که به ته هم را په یاد شوې
غورځیده به مې له لاسه پیمانه نه

دا وروستی ګیله دې ډیره خوږه نه وه ؟
دا غزل دې و ډیر زیات شاعرانه نه ؟

۱قلندر مې منم خوښ دې خو لالیه
ستا په لار چې راځم زړه ږدمه ، سینه نه

که مو لږ غوندې هم خپل فکر په ځاي واي
ورانوله به مو خپله اشیانه نه

په خندا وه ، ویل یې یه زما جلاله
بیا یې وژړل او ویې ویل چې نه نه

# غزل

درد کې لتاړه شه چې خلك په غزل پوه شي
بیا راتر غاړه شه چې خلك په غزل پوه شي

ستا د لهجې له نازکۍ او شیرینۍ نه ځار
کابل ته لاړه شه چې خلك په غزل پوه شي

په دفترونو کې خبرې خو هر څوك کوي
مېنه يې شاړه شه چې خلك په غزل پوه شي

چې لار وروښیم چې غاړه زما خلاصه شي
خلاصه دي غاړه شه چې خلك په غزل پوه شي

ته ولې ناسته يې محفل په قصیدو سر شو
ته راولاړه شه چې خلك په غزل پوه شي

ماته راماته شه په ملا د قافیې په شان
ورانه ویجاړه شه چې خلك په غزل پوه شي

څوك عاطفه وایي جلاله ، څوك د درد چغې
ته ورته دواړه شه چې خلك په غزل پوه شي

www.sikaraam.com

# غزل

زما په ساه، زما په روح کې يې روان کړې ته
دې جدايۍ دې ګوره څومره راته ګران کړې ته

اوښکې به ستا ، په دنيا بل عذاب را نه ولي
بس يو څو ستورې به ښو نه اويزان کړې ته

تا را و نه کتل او ما غزل و نه ليکه
صرفِ نظر دې کړم او ما صرفِ بيان کړې ته

چغې مې واوره په خاطر د خداې ځواب راکړه
داسې چوپ مه کينه ، نوم بدي به بُتان کړې ته

زما ملنګې ! قلندرې ! درد په زړه تير کړه
دنيا به ورانه کړې که څيرې دې ګريوان کړې ته

د خداې تعالي له وحدانيت نه چې منکره يې
د چا د سترګو په تصوير به څه ګمان کړې؟

په رڼا ورځ جلاله دا خوبونه مه وينه
چې په غزل کې به راښکته کوم اسمان کړې ته

# غزل

په زړو لارو کې مو ستا لاره موندلې ده
مونږ په تیارو کې د رڼا لاره موندلې ده

د کاغذي مخ د دوه ټکو رڼايي دې وه
که نه په ورکو لارو چا لاره موندلې ده

دا خلك ولې لا اوس هم په دې باور دي چې
د خداي تر کوره یو ملا لاره موندلې ده

په دې وطن کې څوك د سمې نظريې سړي؟
دې قافله کې خلکه چا لاره موندلې ده؟

زما د زړه تر زخمه هم اوبه راغلي دي
تر ځراغونو هم هوا لاره موندلې ده

د خپلې مور په قدمونو شونډې ږدم او ځم
ما تر جنته بس همدا لاره موندلې ده

جلاله هغه شاعر مرګ نه ځان ژغورلي دي
چې په غزل کې يې جدا لاره موندلې ده

# غزل

اوس چې سر په زنګانه ناست یم فریاد کړم
نامراد شې حسنه ! زه دې نامراد کړم

زر منطقه د رڼا له خدایه غواړم
چې خیرات یې ستا د سترګو له سواد کړم

تا خو سر په تیشه ووهه نامرده
تا خو وې چې زه به عشق لکه فرهاد کړم

د انسان او د خدای جنګ ته وزګار نه یم
زه چې جنګ لا د ایمان او د الحاد کړم

ما خو نه وې چې به ته په ما قیامت کړې
ما خو وې چې څه خو لوظ به دې در یاد کړم

زه په دښتو کې ماڼۍ ودرول غواړم
زړه دې راکړه چې په زړه کې یې اباد کړم

څه غزل مزل خو نه لیکې جلاله
چې خفه نه شې نو در به درله داد کړم

www.sikaraam.com

# غزل

نه ځمکه چوپ شوه نه اواز له اسمانه راته
خو مجبوري به وه چې ضعف به مې په زړه راته

زه یقیني شوم چې قیامت هم علامې لري
نور کله نه راته ، چې زړه مې درځیده ، راته

تقدیر هغه ته هم په برخه شپه لیکلې وه
چې احترام ته به یې لمر تر ګریوانه راته

زه خو په زړه لکه مومن مسلمان صبر وم
خدایه تا څه کول چې کفر مې په خوله راته؟

ګرمي وه ، موږ و ، ډیوې مړې وې ، غیږ په غیږ نه شوو
موږ ته ارمان په هغې شپې د بارانه راته

مینه او کار او کور ته تګ راتګ او خوب په وخت
یو تصور و چې مغزو ته به مې ته راته

جلاله ما په خپل غزل زړونو کې ځای جوړ کړ
نور څه جادو او څه منتر خو راته نه راته

# غزل

د پټېدو نه و ، دا شور د چوپېدو نه و
څه هم که زړه کې مې نور زور د غړېدو نه و

ماښام ، باران ، سړه سیلۍ او زړه دانه وانه
جانانه ! دا وخت خو له ما نه ستا د تلو نه و

ما ځکه و نه ویل چې ته هم زما عشق وکړه
ستا په نازکو سترګو درد زما پېرزو نه و

ورته مې ویل غرور دې ډېر دي ، په خندا یې ویل
اسمان له دې نه پورته نور د جیګېدو نه و

په دې وطن کې ژوندګي ځکه چا و نه کړه
دلته د چا په مړي څوك د ژړېدو نه و

ما څنګه داغ د زلیخې په لمن ایښې واي ؟
لمر خو یوسفه ! په منګول د پټېدو نه و

چې ستا د شال په خاطر خپله خاوره خرڅه کړي
جلال چې مړ نه و ، نو دومره بې پښتو نه و

# غزل

کور دې ودان چې په زړګي کې مې ودان ته شوې
په دې کنډر کاله کې رنګ د ګلستان ته شوې

ګناه زما نه ده چې بدې شم د هر سړي
ګناه خو ستا ده چې د هر سړي جانان ته شوې

په هر طرف به ستا د رحم ثناګانې وې
خو چې وخت راغې نه رحیم شوې نه رحمان ته شوې

خلکو چې شك د دې مالت په محبت وکړ
لکه ګلاب په سرو اوبو کې راروان ته شوې

ما رښتیا وویل اخته په عذاب زه شوم خو
تا دروغ وویل په ټولو خلکو ګران ته شوې

رګونه ما د زړګي پرې کړل په لفظ لفظ پسې
ستم خو دا چې د دې دور غزلخوان ته شوې

جلاله ! څه کیسه ضرور ستا په مغزو کې شته
چې نه په خپل عمل خفه ، نه پښیمان ته شوې

# غزل

نه څه خبره ، نه کیسه ، خفه ده
خدای خبر بیا ولې خفه خفه ده

په کتابچه کې ژیړ ګلاب څه معنا؟
راپخلا شوې ده که نه خفه ده؟

چې زړه دې وخورم ، څه یو ته خو نه یې
ما نه خو ټوله زمانه خفه ده

نن مې د مور سترګو کې اوښکې راغلې
د جنتونو منظره خفه ده

په ائینه کې څه خبره نه شته
ما نه زما خپله څېره خفه ده

دومره خو ډېره ما چیرلې نه ده
جلاله څومره چې هغه خفه ده

# غزل

ملګرو نن مې ټول حدونه مات کړل
د چا په ملا کې مې هډونه مات کړل

هغې په سترګو باندې لاس ونیوه
ما د وحشت روایتونه مات کړل

ډیر دې ناوخته د شپې مات کړل بنګړي
ډیر دې بې وخته زموږ زړونه مات کړل

هغوي د سر په قدر هم پوهه کړئ
د چا په سر مو چې سرونه مات کړل

ته نور د خپل قد ناپول مه کوه
تا قیامتونه قامتونه مات کړل

سر په تیشه وهل څه ګران خو نه دي
فرهاد هغه و چې یې غرونه مات کړل

جلاله ! زلفو نه لا و نه وتل
خلکو که هر څو ځنځیرونه مات کړل

# غزل

څومره الزامونه مو په سترګو کې راوړي دي
وګوره ګلونه مو په سترګو کې راوړي دي

غټې غټې سترګې چې له شرمه ورليدي نه شي
هغه تصويرونه مو په سترګو کې راوړي دي

ستا د اوښکو ټولو ناقرارو سوالونو ته
راشه! ځوابونه مو په سترګو کې راوړي دي

نوي قامتونو ته مو سترګو ديد بايللي دي
نوي قيامتونه مو په سترګو کې راوړي دي

ويني ، ويني حال مو د زړه ويني او که نه ويني؟
ويني ، ويني زړونه مو په سترګو کې راوړي دي

ښکل يې کړه ، زموږ د عشق له حد سره سيالي وکړه
زلفو غوندې ولونه مو په سترګو کې راوړي دي

نقش چې و جلاله ! له سره اوره د سپوږمۍ په مخ
هغه شان داغونه مو په سترګو کې راوړي دي

# غزل

حال د دنیا درته بیان کړم که د زړه ووایم
ټولې خبرې رانه هیرې شوې چې څه ووایم

دې بې ایمانه وخت کې دا ایمانداري ډېره ده
چې بد ته بد ووایم خدایه ښه ته ښه ووایم

څوک دي چې چغې مې تر بره اسمانه رسوي؟
چا رامات کړي دي په زړه باندې بانه ، ووایم؟

اوس اورنګزیب نه شته چې ستا توره تر ملا وتړم
اوس به غزل بابا ! په ننګ د پښتانه ووایم

کچه کوټه ، خلاصې کړکۍ ، زخم پر زړه او ستا یاد
چې کوم کوم درد درته له شپې د بارانه ووایم

جلاله ! دومره خو وړه ماشومه هم نه یمه
چې ستا رازونه به په سر د تناره ووایم

# غزل

مونږ نه چې لارې ورکيدلې ، وه تياره لاليه
زمونږ تر فکره راختلې وه تياره لاليه

زه چې رنده شوم ، ما چې چغې کړې چې غل دي ورونو
زما په زړه باندې راغلې وه تياره لاليه

ستا له ظاهر نه به رڼا له بدرنګۍ پيکه شوه
ستا له باطن نه بلا ښکلې وه تياره لاليه

ډيوې يې مړې کړې ، سترګې پټې ، په سلګو يې ووې
په نصيبه به دې ليکلې وه تياره لاليه

تا لوپټه لرې کړه ، سترګو په ما تور وخوړه
لکه چې ستا زلفو کې غلې وه تياره لاليه

ما چې په زړه کې ليدې، اور به رڼايي کوله
ما چې په سترګو نه ليدلې، وه تياره لاليه

جلاله ! خود به ملا بانګ تلله چې سترګې يې وې
زمونږ له حاله شرميدلې وه تياره لاليه

# غزل

که یې پوره غواړې، که ډېر تر ضرورت غواړې
هر څوك چې څه غواړي، د خپل وجود قیمت غواړي

ما ورلیږلي بنګړي تول توتې ، توتې پراته
ما ته راکړې زړګي ما نه سلامت غواړي

هلته په ما د محبت د جرم حد ولې؟
چیرته چې خلك نه نظام نه شریعت غواړي

دا د یارانو حسد نه دي ، خو نسبت غواړي
زما غزل زما د عمر په قامت غواړي

حساب ، کتاب ،او مزدري ،او شاعري ،او ته
پرېږده چې ژوند وکړم ، کارونه خو فرصت غواړي

نه فلسفه ، نه نظریه ، نه د نجات فکر
زما وطن خو بس ناره د محبت غواړي

جلاله ! ما ته مې درکړي وجود بیرته را
مړي له څمکې نه هم خلك امانت غواړي

# غزل

بیا بیا دې مات کړ خو چې بیا څنګه باور کوي
حیران مې زړه ته چې په تا څنګه باور کوي

وروستۍ سلګۍ د ځنکدن، لا يې راتله ګوري
دا سړي نور په مسيحا څنګه باور کوي

له دې نه مخکې خو مې ستا په اتبار ژوند کوه
له دې نه پس به څوك په ما څنګه باور کوي

غم نه دي دا چې زه دې پریښودم ، غم دا دي چې
خلك به دلته اوس په چا څنګه باور کوي

وې ، زړه خو پټ وي ته نو زړه څنګه لوستلي شې؟
ما وې مخلوق خیر په الله څنګه باور کوي؟

ستا په قسم چې مې هم زړه ښاځکې اوبه نه څښي
ستا په خبرو چې دنیا څنګه باور کوي؟

مینه چې خاورې شوه جلاله ! وینه څه ده نو
څوك به په خپل وجود او ساه څنګه باور کوي

# غزل

د ژوند اخرې خاتمې ته به مې نه ورکتل
ترې ویریدمه هدیرې ته به مې نه ورکتل

...

د ډیرو بندو دروازو په راز خبر ومه چې
د چا پرانستې دروازې ته به مې نه ورکتل

که زه خبر واي چې به ما ته ستا څهره رابسیي
که زه خبر واي ائینې ته به مې نه ورکتل

ما به د ظلم په شپه ښکته کړې پردې د کړکۍ
د چا طوفان د چا ډیوې ته به مې نه ورکتل

ما دې سرې ته کتل ، ما ته یې نظر مهم و
د ده تر شا تورې سایې ته به مې نه ورکتل

ته مې غوښتلې ، امکاناتو پسې نه ګرځیدم
ته مې په یاد وې ، زمانې ته به مې نه ورکتل

جلاله ! ځان ته به مې هر اختر جامې کولې
د چا شلیدلې لوپټې ته به مې نه ورکتل

# غزل

نظر مې لاړ د پښو له ګوتو نه مې ساه وخته
ستا د راتګ وعده جوړ دا ځلې رښتیا وخته

اوس به دې زور د اخلاص ګورم د قبول مالکه
یوه دعا وه چې له زړه مې په ژړا وخته

د عشق پر ځمکه چې سر کیږدې غرونه هم اوبه شي
هغه په هر څه وفاداره بې وفا وخته

ستا د ښایست په معیار شعر یې لا لیکلي نه دي
لیونۍ شوې ده چې ستورو ته دنیا وخته

ته به مې وژنې که نه ما به مې خپل شرم وژني
زما قاتله دا ده سترګه د سبا وخته

یوه ګیله وه خاموشۍ مې کړله زخم په زړه
یوه نغمه وه او هغه هم بې نوا وخته

د غملړلي زندګۍ ګیله له ما مه کوه
جلاله ستا د خپل نصیب کرښه خطا وخته

# غزل

زما ساه یې زولانه روانه کړې
موسیقي یې رندانه روانه کړې

خلکو نورو سره تار دي غځولي
مونږ په خپلو کې کینه روانه کړې

ستا تصویر مو دي په خاورو ځوړند کړي
په رندو مو ائینه روانه کړې

مونږ یو چیرته زمانې راروان کړي
مونږ وه چیرته زمانه روانه کړې

د پالنګ د خوب خیال مې دي په زړه کې
او په خاورو مې سینه روانه کړې

خلکو راوړلي بازار ته ښې غزلي
مونږه لال و دردانه روانه کړې

ستا د عشق قهر چې چېرته چېرته اوري
مونږ هم هلته آشیانه روانه کړې

منزلونه مو په بره خیژولي
قافله مو په ستنه روانه کړې

بیا د چا د ساقی سترګو ضرورت دي
بیا دې چا ته پیمانه روانه کړې

د اسلام په نوم څوك سپینه جنډه اخلي
او چا توره ، سره او شنه روانه کړې

دا په ځان دې څه کاني وکړې جلاله
دا په مونږ دې څه کانه روانه کړې

www.sikaraam.com

# غزل

څومره الزامونه مو په سترګو کې راوړي دي
وګوره ګلونه مو په سترګو کې راوړي دي

غټې غټې سترګې چې له شرمه ورلیدي نه شي
هغه تصویرونه مو په سترګو کې راوړي دي

ستا د اوښکو ټولو ناقرارو سوالونو ته
راشه! ځوابونه مو په سترګو کې راوړي دي

نویو قامتونو ته مو سترګو دید بایللي دي
نوي قیامتونه مو په سترګو کې راوړي دي

وینې ، وینې حال مو د زړه وینې او که نه وینې؟
وینې ، وینې زړونه مو په سترګو کې راوړي دي

ښکل یې کړه ، زموږ د عشق له حد سره سیالي وکړه
زلفو غوندې ولونه مو په سترګو کې راوړي دي

نقش چې و جلاله ! له سره اوره د سپوږمۍ په مخ
هغه شان داغونه مو په سترګو کې راوړي دي

# غزل

د عشق خبرې مې یارانو ، چې اسانې کړې
ما په خپل لاس قتل نن خپلې اروزګانې کړې

اوس مې بازار د پتاسو د دوکاندار جوړ کړ
اوس مې خبرې پرې د کلي ماشومانې کړې

زما له مخه دې پرده ولې اوچته کړه
په ما دې ولې خپلې سترګې بدګمانې کړې

زه دې د تورو سترګو اوښکې ، قلندرې ځار
په زیارتونو باندې چا ته دعاګانې کړې؟

راته ژړیږي ، وايي تول ته ملامته یې
ګورئ اوبه يې چې په بره خوا روانې کړې

زه هغه زړه کې د ذرې هومره هم ځاي نه شوم
خلکو د عشق په زور هندوانې مسلمانې کړې

تا یارانو کې هم خدمت د ادب هیر نه کړ
جلاله ډېرې جینکۍ دې شاعرانې کړې

# غزل

د تقدير څرخ زموږ په خير او که په شر ودريد
زموږ په دور چې راتګ د پيغمبر ودريد

چا وې ، له ځان سره هر څه وړي دريابي سترګې
زما خو خدايږو په کې ځاي په ځاي نظر ودريد

حاسده ! اوس رانه په هر ځاي ټکوه تندي
ښه شوه يو څوك خو درته مخکې لکه غر ودريد

چې د کوټې تيران مې مات شول بې پردې نه شوم
ستا له قدرته ځآر اسمان راته په سر ودريد

منصوره ! هغه زمانه ستا د نظر نه وه
راشه اوس غږ وکړه چې تا پسې لښکر ودريد

هله به ومنم رڼا چې حقيقت لري
چې د هر چا سيوري د خپل قد برابر ودريد

مورجانې خير دې نن تنور لمبه کوي نه شم
جلال کمبخته مې بيا سترګو ته نهر ودريد

# غزل

که په غزل که په دعا مې دا خبره وکړه
تا ته مې وکتل په تا مې دا خبره وکړه

ما به وې مرم د مرګ خبره دې چې بیا و نه کړې
تا به وې مړه دې شم که بیا مې دا خبره وکړه

زه دا منم ، در ته مې ووې نوره سترې یمه
خو ستا به پام و ؟ په ژړا مې دا خبره وکړه

نن به دې وژنم ، خو چې مور مې وه که خور به مې وه
بیا په سلګو وه چې بابا مې دا خبره وکړه

واه موسیقۍ! مئېن روحونه زنګوې در سره
ستا د پاولیو په شرنګا مې دا خبره وکړه

په تا مئېن یم ، ته مې ځان یې ، ته مې زړه او ځیګر
لاس مې په زړه ، په یوه ساه مې دا خبره وکړه

جلاله ! مخامخ مې و نه وې، ترې جنګ جوړیده
خو ته چې لاړې پس شا مې دا خبره وکړه

# غزل

تر هغې نه راځي چې بيا تور ماښامي نه کړي
الله !! ته خير وکړې چې زړه مې ځاي په ځاي نه کړي

زه د دنيا له غمه پټې سترګې ښه يمه
هغه ته ووايئ چې بيرته مې ژوندي نه کړي

بې تجربې يې د وحشت اداب دي هم نه زده
په تشو شونډو ښکلولو څوك زګيروي نه کړي

ژوندي ديوال کې ښخول نو د چا زړه مني؟
تاريخ به دروغ وايي نو داسې خو سړي نه کړي

زه به دې څنګه کړم پخلا چې تا قسم کړي
زه به نو څه وکړم چې خپل کارونه خداي نه کړي

مخکې تر مخکې به تعويذ د ردپه غاړه کړم
د چا خبرې مې ناڅاپه ليوني نه کړي

څومره چې تا کړم په غزلو کې رسوا رسوا
جلاله څوك چا سره دومره هم زياتي نه کړي

# غزل

ختمه که په مرګ ده ، د ژوندون خبره نه ده
بیا خو په والله د شواخون خبره نه ده

مونږ په هر ممبر او هر دفتر یرول شوي
مونږه ته چا کړې د سکون خبره نه ده

ګورمه حالات په غړیدلو چې غرکیږم
دا د بد شګون او ښه شګون خبره نه ده

بیا مې چې نن زړه لاس کې نیولي در روان یم
ما ته جوړ په یاد ستا د پرون خبره نه ده

دا زما غزل دي ځیګرخون به ترې لاړ نه شي
دا خو ستا د سترګو د راښکون خبره نه ده

اوس هم فلسفیان د زړه له چغو نه منکر دي
هیره یې لا هم د افلاطون خبره نه ده

څومره په شدت چې د عشق راز راخپړل غواړي
دومره خو جلاله د جنون خبره نه ده

# غزل

اوس چې شوم سر په زنګانه ، راته په مخه راځي
مرګ هم په داسې ژوندانه راته په مخه راځي

هغه په لوی لاس ګوره شرك ته مجبور کړي یمه
نه رانه ځان پټوي نه راته په مخه راځي

چرته په ژوند کې کله کله عشق راپیښه کوي
چرته په دښته کې اوبه راته په مخه راځي

زه به د خپل ګریوان پوښتنه ورنه څنګه کوم؟
چې په شلیدلي ګریوانه راته په مخه راځي

په هر طرف اوړم په تورو او چړو او برچو
وروځې او سترګې او باڼه راته په مخه راځي

ما ته ښکاریږي حقیقت چې قیامت هم لري
کوم علامت د بیلتانه راته په مخه راځي

جلاله! چا ته چغې وکړو ، چا ته زړه وښیو؟
په هره خوا ړانده ، کاڼه راته په مخه راځي

# غزل

په يو محفل کې مو چې يو بل ته سلام و نه کړ
سوال و د عشق چې مونږه سوال د ننګ و نام و نه کړ

ما روغ دروږي زړه واپس ذرې ذرې راوړي
خبره بله نه وه ، تا وربانديې پام و نه کړ

هغې له ما سره وعده وکړه ، پوره يې نه کړه
هغې د خپلې پښتو ژبې احترام و نه کړ

لاسونه ، پښې ، شونډې او نور او نور به نه وايمه
ښکل مې کړل، فرق مې د حلال او د حرام و نه کړ

ما له بيلتون او له غربته د ژوند خوند و نه ليد
ما خو د چا په څنګل خوب سرماښام و نه کړ

ته خداي د ګلو په بستر کې هم بې خوبه نه کړې؟
او ما په وچو ، وچو کاڼو هم ارام و نه کړ

څه که دنيا دې د ښه والي تعريفونه کوي
جلاله ما سره دې دوه ورځې ناکام و نه کړ

# غزل

ستا په محبت کې اثر شته که نه
وګوره چې سر مې په سر شته که نه

تا باندې پنځه وخت باور کوم
ما باندې دې جانه ! باور شته که نه

حد د لېونتوب دي ، خپل غږ نه اورم
غرونو کې نارې وهم غر شته که نه

دا خبره هم دلته زړه شوه اوس
چا سره کوم نوی خبر شته که نه

لولې په کوم خیال چې ته غزل زما
فکر دې هم دومره ژور شته که نه

څوك ما ته په اور کې سور ګلاب ښيي؟
څوك زما له ذاته بهر شته که نه ؟

ته په ډېر حکمت او دولت څه کوې
تا سره جلاله هنر شته که نه

www.sikaraam.com

# غزل

د زړه په درد ستا د کرم د محبت باران
غواړو له خدایه په لمبه لمبه مالت باران

نن مې چې بیا ستا بې بنګړیو مړوند ونیوه
نن مې په فصل باندې اورې د رحمت باران

دا خو زما د زړه تر زخمه پورې لار کوي
ما خو وې څه خو راورېږي به په چت باران

زه تا نه نه کوم ګیله چې په ژړا دې کړم
زه یم خبر چې دي د خاورې ضرورت باران

نه مې پخوا درځیده داسې په شدت زړګي
او نه پخوا وریده داسې په شدت باران

زما د بخت د بام له مات لرګي اوبه راشي
زما په زړه کړي راتازه داغ د غربت باران

جلاله ! زه په الهامونو باور نه لرم
په ما ورېږي د لفظونو د جدت باران

# غزل

زده دي د ماتو ائېنو پيوندول تا ته
ځکه مو زړونه بيرته کېښول په منګول تا ته

زه به د تېولې زمانې د خندا ولې واي
ضرور مې څه و، بس خو نه به مې ژړل تا ته

ستا د لهجې د نازکۍ له نزاکته ځار
ديوان لوګي شه د غالب او د بيدل تا ته

منځ کې مو بې له ما نه بله حيراني نه وه
تا به هندارې ته ، هندارې به کتل تا ته

ما وې چې سترګې دې سرې ، سرې ،ردې ، ردې نه شي
د زړه داغونه به مې ځکه نه ښودل تا ته

زه او ته دواړه د بازار په احاطه کې يو
ته ما ته سترګې راکوې او زه غزل تا ته

جلاله ! څنګه دې چې نن راته بنګړي مات کړل
داسې اسانه دي د زړونو ماتول تا ته

# غزل

اوس مې پرېږدې چې خپله ساه ، راته رایاده شوه
ما هیره کړې وه خو بیا راته رایاده شوه

ستا د راتلو په درانه خوب کې رانه هیره وه
ستا د بیګا وعده سبا راته رایاده شوه

له څو کلونو پس یې راغلم په کوڅه باندې
پرون مې هیره وه نن بیا راته رایاده شوه

په ابتدا ، د ډکو سترګو د خندا کیسه
د زړه د درد په انتها راته رایاده شوه

تا سره بیا ځل مخ کیدو ته یم حیران ولاړ
خو معجزه د مسیحا راته رایاده شوه

الله ته خیر چې وروستي رګ مې د زړه پرې نه شي
الله ته خیر وکړې ، الله ! راته رایاده شوه

د دوزخي کاڼو باران مې هم سر مات نه کړ
جانِ جلاله ! ستا دعا راته رایاده شوه

# غزل

زه لکه بوت ، چې سره ګلونه قتلیده ، ولاړ وم
چې زما زړه به و ولاړ او که به زه ولاړ وم

خلکو سهار نه تر ماښامه ستا لټون کولو
زه به سهار نه تر ماښامه په لمانځه ولاړ وم

ما وې چې ځان په خلکو ووینم د لمر په تکیه
څومره کمزوري وم ، همیش په لمرخاته ولاړ وم

زه له هغې پس بیا په دواړو پښو پریوتمه
زه تر هغې چې ستا اواز مې اوریده ، ولاړ وم

چې را په یاد به شوې چې تا له به بنګړي راوړل وي
نو مزدورۍ ته به په لمر او بارانه ولاړ وم

سپوږمۍ په تلو وه ، هر سړي په کټ کې پروت و خو زه
د بې وفا د راتلو لوظ رایادیده ، ولاړ وم

جلاله ! څنګه مې حیرانه ځان ته ودروله
چې نه واپس ورنه راغلي وم او نه ولاړ وم

# غزل

نازك څانګونه به ږلۍ او طوفان مات کړي
ما به غمونه د دوران او جانان مات کړي

چې څوك پر ځمکه کرښه راکاږي د ویش په نوم
وایم که سر باندې مې بره اسمان مات کړي

هرې خبرې ته قسم خو دروغجن کوي
زما باور به ستا ( قسم په ایمان ) مات کړي

دا جینۍ ښه نه ده ، چې قار شي ماتوي بنګړي
یو وخت به ما هم د بنګړیو په شان مات کړي

زه چې له هر ګذار نه پس داسې ژوندي دریږم
خلك مجبور دي چې خپل تیر او کمان مات کړي

جلاله ! تا ته څه ضرور چې ته ځواب وایې
حاسدان پرېږده، دوي به خپله وجدان مات کړي

# دا به وی کومه مرحله پیره !

## دویمه برخه

دا به وي کومه مرحله پیره!
چې زړه مې ودریده خو زه روان
خلکو مې کټ تر هدیرې ویوړه
زه ترې واپس مخ په کاله روان

دا به وي کومه مرحله پیره ؟
چې خاورې بره وینم ، ستوري کوز
سترګې زما دي تر اسمان جیګې
او اسمانونه راته ګوري کوز

دا به وي کومه مرحله پیره ؟
عشق د یوې سندرې خوب ګڼم
لیونتوب داسې لیوني کړم چې
اوس لیونتوب هم لیونتوب ګڼم

دا به وي کومه مرحله پیره ؟
چې مرحله د غړیدو راشي
چې ځان ته ودریږم ، ځان ووینم
په ما خوله د شرمیدو راشي

www.sikalaam.com

دا به وي کومه مرحله پيره ؟
چې په ځنځير ګمان د تار کوم
چې غواړم خپل دښمن ته درد ورکړم
نو په خپل زړه باندې ګذار کوم

دا به وي کومه مرحله پيره ؟
چې له جانانه مې ګيله وشوه
ما چې له کومې کيسې ډار لره
نن مې پر شونډو هم هغه وشوه

دا به وي کومه مرحله پيره ؟!
چې له ښځو نه اويزان يمه
او په هغو خلکو خندا راځي
چې ځان ته وايي چې انسان يمه

دا به وي کومه مرحله پيره ؟!
چې په هاي هوو کې مې زړه ساه اخلي
چې په نشه کې تر ويښتو ډوب يم
په الاهو کې مې زړه ساه اخلي

# غزل

موسم سپرلي شي، ته چې ګل غوندې نظر کوې
په يو نظر په هرې خوا د ګلو کر کوې

هره خبره درته څه غر په غر وولم
هره خبره راته څه په زير و زور کوې

کله تور خال پر زنه کيږدې ، کله شين جانه !
اخر دا څه کانې زما د زړه په سر کوې

کور مې دې وران شي چې اوس هم درته بانې کوم
کور دې ودان چې لا مې هم په خوله باور کوې

د سرو بنګړي چې خرڅوې د اختر مخې ته
ما له کفن کوې، که ځان له پرې څادر کوې؟

زړګيه څه چې بيرته ګرځو ، په ما سر ګرځي
د عشق په دښتو کې به نور څومره سفر کوې

همدا يو خيال په شعر کې اړوې را اړوې
او بيا جلاله نقادانو سره شر کوې

# غزل

غوړ دې شي ، وادې وري دنيا د تورو سترګو غزل
زما په زړه کې په درزا د تورو سترګو غزل

واخله دا واړه زندګۍ شه ستا له سترګو قربان
راکړه زمونږه خون بها ، د تورو سترګو غزل

لوح محفوظ باندې وې رسمې د زړه وينې زما
او د هغې شاهې شاها د تورو سترګو غزل

تسنيم ، درمل ، سعود ، سالك ته مې زړه نه ورځي اوس
کاشکې مې نه و لوستي ستا د تورو سترګو غزل

ما په محفل کې ستا د سترګو خاموشي ياده کړه
خلکو وې دې ته وايي واه د تورو سترګو غزل

شاعر به نه وي که دا وخت خداي نه بل هم څه غواړي
چې جام وي، شپه وي او د چا د تورو سترګو غزل

اوس چې خبره د فن راغله په معيار او شهکار
جلاله ووايه اوس دا د تورو سترګو غزل

# غزل

کړل د قدرت نشو څه بې وخته خراب یاران
هغه زمونږه د حساب او د کتاب یاران

زه خو یې پیژنم چې ما ته یې وجدان مالوم
پر مخ دې نه خوروي زر قسمه نقاب یاران

سره هوا د وخت ، او زخم په ځیګر الله !
ریدي ریدي ، لاله لاله ، ګلاب ګلاب یاران

چې ارمانونه مو قتلیږي او دوي آه نه کړي
چې ویده شوي دي د کوم ارمان په خواب یاران

چې زندګي یې همه عمر وي راحت راحت
خداي دې اخته نه کړي په دا ډول عذاب یاران

د اهل ذوقو په مذهب دې غرض نه لري
اهل کتاب ، اهل حساب ، اهل خطاب یاران

جلاله ! بیا په توره شپه ما ته و نه دریږي
تا کړل په ما او دوي کې خپله انتخاب یاران

# غزل

کیسه خو دومره اوږده نه وه خو بس جام و روان
ستا نوم هم یاد کړ چا ،او شعر هم د خیام و روان

عشقه ته ښه وې ، تر سهاره په وحشت پاتې وې
حسن خو سم لکه میلمه ، سر ماښام و روان

آدمه ! څه وه زندګي تر قیامته پورې !
خو ستا هابیل او قابیل دواړه ګام په ګام و روان

ستا پیغلتوب کې د خپل کور له سوخته ډېر یریدم
ته په اسمان روانه ، لمر زمونږ په بام و روان

د هغو سترګو میخورو څه معجزې وې الله !
چې د نشې په تماشه یې خاص و عام و روان

د خداي وعده وه چې تر څو په یاد وي، رنګ به نه شي
زړه و زما ، چې د دنیا دغه نظام و روان

زما تپوس که زماني وکړ چې څوك و جلال !
ته ورته وایه په دې لاره یو بدنام و روان

# غزل

چې په سندرو مې له تا سره پیوند نه و
هغه مې هم منم چې ژوند و خو د خوند نه و

څه زمانه وه چې ګڼله مو رڼا د شپو
په ماه رویانو باندې داغ چا ته څرګند نه و

چې په غزل کې به یې بیت په بیت جنون بایله
زړه یې تړلی ستا په زلفو بند په بند نه و

تا به تر هغه پورې نه کوه باور په ما
چې به مې کړې درته زر ځلې سوګند نه و

خود به رسوا وم چې په شان د پښتنې پیغلې
زما ارمان د دیوالونو کلابند نه و

د بیلتانه د کوم کوم جبر درته ووایم؟
بیګا مې سر لاندې بالښت ایښی، مرووند نه و

جلاله ! نوو شاه زلمو چې په پښتو لیکه
داسې غزل نو په شیراز او ثمرقند نه و

# غزل

خدای به راولي په تاب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب
راته ږدي به بیا کتاب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب

جینکۍ له مجبوریته ، په بازار کې شوې بندۍ
را حصارې شوې ګرداب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب

وایم ولې مې ساه خیژي ، راته وايي په خندا
زړه چولي دي ګلاب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب

راشه بیا هغه منظر دي ، چې جدا شوو زه او ته
راشه پریوتې تالاب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب

ما لیدې کیسه خوانۍ کې ، لوپټې شوې تار په تار
ما لیدلې په عذاب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب

رنځوریږي خو په سیوري ، چې په لمر شي ګل رالوي
تا اخر کړې په نقاب کې ژیړې پاڼې د ګلاب

یادې نه کړې چا جلاله ، په غزل کې په دې شان
په دې دومره انقلاب کې ، ژیړې پاڼې د ګلاب

# غزل

نن مې بیا هغه مرورې سترګې يادې کړې
چې په راتګ يې ما بلها مرغۍ ازادې کړې

هغې اخر هم راته ووې ، نامراده شې
د چا مراد ته چې مې مينډې نامرادې کړې

د چا د زړه په پاخه کور ، عشق لګولی اور
چیرته کوچیانو په هلمند کیږدۍ ابادې کړې

ما ښه و نه کړل چې په ځان مې قيامت راوست
ما ښه و نه کړل چې وعدې مې ور په يادې کړې

زمونږ خبره يې په کليو کې رسوا نه کړه
خاونده دا ورې ورې جينکۍ ښادې کړې

هغه چې شك د انسانيت په شرافت وکړ
هغه یو څو زمانې نورې هم بربادې کړې

جلاله ! بې له دې باور وکړه ناراسته وې
زمونږ ساه ګانې دې د خپل غزل معتادې کړې

# غزل

په دنگو دنگو قامتونو سر شوې
لکه شمال په چنارونو سر شوې

زړه نه مې سترگو ته راوختلې
له کوره تلې په بازارونو سر شوې

دا زمزمه وه که عذاب زړگیه ؟
دا ته په کومو فریادونو سر شوې؟

ما درته نه وې عشق اسانه نه دي؟
لاړې اخر په زیارتونو سر شوې

ما جنگ نه پس وې چې ژوندي خومره یو
ته په شمیرلو د قبرونو سر شوې

څه ائېنه خو درته و نه درېدم
چې په خپل ځان په گمانونو سر شوې

په کوم امید په توره شپه جلاله !
په دې گمنامو سرکونو سر شوې

# غزل

د بخت شپې ! زما د زړه لمنه پرېږده
تماشې ! زما د زړه لمنه پرېږده

تر هغې چې زه ګرېوان راټولومه
تر هغې زما د زړه لمنه پرېږده

تا به وې ، زما باهو په کې ننبستي
ما به وې ، زما د زړه لمنه پرېږده

زليخې ! د رسالت نوم به بدنام شي
زليخې ! زما د زړه لمنه پرېږده

دا رېښې رېښې رګونه يې نور شلېږي
ته چې ځې زما د زړه لمنه پرېږده

شور مې خېژي ، رسوايي ورنه جوړېږي
په پردې زما د زړه لمنه پرېږده

جار جلاله ! ستا خو بل لمن نيولې
په همدې زما د زړه لمنه پرېږده

# غزل

جینۍ! له دیواله راکوز کړه سر په مازیګر
د خدای لپاره مه جوړوه شر په مازیګر

دا کوډې که پیریان دي که اثر په مازیګر
سړي هسې کاواکه شي اکثر په مازیګر

زما د زړګي رنځ هم کړه دا ستا کیسه رسوا
چې وینې ګرځومه مازیګر په مازیګر

ماښام شو ، ته رانغلې ، ما ګریوان کړ تار په تار
ګریوان به دې شلومه د محشر په مازیګر

چا راوړه کور ته ډک منګي له اوښکو او اوبو
چا راوړه کور ته زخم په ځیګر په مازیګر

یو شور د زندګۍ دي یو هجوم د لیونو
یا دار دي یا پرانستي دي چاور په مازیګر

ته راشه چې جلال کړي درته ځان لوګي لوګي
چې مات د نظرباز و شي نظر په مازیګر

# غزل

په پخلا مینه کې به څنګه دا ناکام کوې؟
ما وې چې ته ، تا وې چې ته به مې سلام کوې

لکه صنم به داسې چوپه خوله ولاړه یې
که له بنده سره به څه کلام تلام کوې

په خوب دې پریویستم په خپله او ناګاره شوې
چې ساه مې خیژي اوس په ما باندې الزام کوې

غزل که نه وایم نو نور به درته څه وایم؟
خندا که نه کوې نو نور به څه اکرام کوې؟

تا راته وې انجام همدا دې رانه لاس تاو کړه
ما درته نه وې چې لږ خیال به د انجام کوې؟

زړګیه ! وینې مې چې سترګو پورې نه پرېږدې
لکه چې ته د تورو سترګو احترام کوې

جلاله ! پرېږده مړه ځان نه دې ماشوم جوړ کړ
غیږه کې څه ته په هغې ماه تمام کوې

# غزل

ما وې که کر به د ګلونو ګام په ګام کوې
ته خو لګیا یې د غوټېو قتل عام کوې

د ژمي شپه، نرې څادر نه ،زه په دې ژاړم
چې ته له ما سره په څه دومره ناکام کوې

سپوږمۍ! نه هغه سترګې شته نه هغه زړه پاتې
د کلي سر نه چا ته اوس د چا سلام کوې؟

دې ته به نه ګورې چې شین دي، او که تور په زړه
دلته به بس د سپینو ډکو احترام کوې

اوس نو دنیا ته د پوښتنو ځواب هم ورکړه
ما درته نه ویل چې ګریوان سره به پام کوې

ما سره خپل سیوري هم اوس په یوه لار نه ځي
چې ته لا څنګه اعتبار په ما بدنام کوې؟

زه خو جلال یم ،او جلال مري په خولګۍ پسې
زه خو سلیم نه یم چې ما ته ست د جام کوې

# غزل

چې بې له تا يې بل تشويش او بل وسواس نه شته
دا د زړه کار دي ، د زړه کار کې زما لاس نه شته

مونږه مجبور، خپلې څرمنې تا ته ګرو درکړو
مونږه مجبور، زمونږ په تن باندې لباس نه شته

ما ترې زما په هکله وپوښتل چې څنګه شوم
ويل يې زما له ليونو سره تماس نه شته

چې به مې زړه ورسره ښکته پورته ، ته راته
په تورو سترګو کې دې هغه تيټ و پاس نه شته

زړه ته مې زور ورکړه چې بيرته په خپل حال راشم
له ما نه ورك دي، ما سره زما حواس نه شته

جانِ جلاله ! يو يو لفظ دې دي غزل غزل
افسوس چې دې وطن کې څوك غزل شناس نه شته

# غزل

مونږه خو غوښتې وه دوه درې سترګې رڼا په وطن
دا د تيارو لښکرې راوستلې چا په وطن

ځئ مئېنانو چې مونږ هم خپله جنده پورته کړو
تر څو به ناست يو قوماندې ته د پاچا په وطن

مورې په سر باندې مې لاس او قران دواړه تير کړه
ځم روانيږمه چې وکړمه غزا په وطن

سينه به سپر غشو ته نيسو چې را پرې نه وځي
د اورنګزيب د پښو ګرد د خوشالا په وطن

د جنتي حورو کيسو سره به وروسته ګورو
اول ژغورل د لوپټو په کار زما په وطن

د خپل وجود ، خپلې پښتو او خپل شناخت په نامه
يوه ناره د لا اله الا الله په وطن

جلاله ! توره راويستل هم ضروري وګڼه
کله چې شپه ورځ خطره وي د بلا ، په وطن

# غزل

ښنګه به نه رازرغونېږي سره ګلان په وطن
چې قتل شوي دي زمونږه هر ارمان په وطن

مونږه له ستورو نه ډیر ورکړل شهیدان په وطن
خو لا تر اوسه ماحول نه شو څراغان په وطن

زما دعا په هغه شپه هم خداي منظوره نه کړه
چې راتپیت شوي و دوه درې ګوتې اسمان په وطن

اوس چې زه نه یم ،اوس نو اوښکې تویوه راپسې
اوس دې وریږي په شیبه شیبه باران په وطن

بې ننګو سترګو به مې زړه ولې تازه ساتلو ؟
د کابل جان ګلان خو نه شي د ملتان په وطن

په هر دیوال کیسه زمونږ د بدنامۍ لیکلې
زړګیه ! دې نه پس مو نه کیږي ګذران په وطن

جلاله ! ته یوازې نه یې چې حق نه پتوې
شته دي یو څو لیوني نور هم ستا په شان په وطن

# غزل

څه ته مې وشینده، زه څان راټولولې شمه
دومره باور خو د جهان راټولولې شمه

څنګه چې تا خپلې خورې زلفې درټولې کړلې
خواره افکار مې دغه شان راټولولې شمه

په سلو چغو خپل یاران راټولولې نه شم
خو په یو غږ مې رقیبان راټولولې شمه

زه کوم هنر او کمال بې له دې نه بل نه لرم
چې له ایرو لال و مرجان راټولولې شمه

خیر که مې ګوتې زخم زخم مزدورۍ کړلې خو
لا دې اوربل ته سره ګلان راټولولې شمه

چې دا به کومه مرحله وي د جنون او د عشق
نه مې تنۍ نه مې ګریوان راټولولې شمه

جانې جلاله ! ما نو کله دا خبره کړې؟
چې زه له تا نه خپل ارمان راټولولې شمه

# غزل

ځمکه نشه ملنګه ! قهر د اسمان ملنګه !
یمه حیران ، سړي په کومه شي روان ملنګه !

چې نه د ځان پاتې وي نه څوك د جهان ملنګه !
هغه به څه رنګ په ښه راشي د جانان ملنګه !

له خدایه نه ، خداي خو له موره هم وي ډیر مهربان
زه اوس ویریږم له عذابه د وجدان ملنګه !

ستا په دعا که کیداي دا وطن به جوك و جوړ و
ستا په دعا باندې به څه وشي نادان ملنګه !

که د لفظونو زور او کوډې واي معیار د مینې
تا به تر پایه په کې نه کوه تاوان ملنګه !

دربار ، سرکار او دینار واړه لاس په نام دي تا ته
عزیزخاني دې مبارك عبدالرحمان ملنګه !

زما یقین ، زما باور ، زما ایمان ملنګه !
دومره پوخ شوي ، چې شکي یې کړم په ځان ملنګه !

ما ځکه شور د ښاریو وریسې پریښود ، راغلم

www.sikaraam.com

ما ته چا ویلي و چې ژوند دي بیابان ملنګه !

ما دې بس یو ځل د ازمیښت له اوره تیر کړي
زه ولې ورکړمه شپه ، ورځې امتحان ملنګه !

زه په راغلې لاره بیرته ځم، تر ذاته پورې
له ما نه نه شي دا سفر نور د ګمان ملنګه !

د اورباله د سیوري یاد دې په زړه اوري که نه ؟
د دیواله سیوري ته ناسته پریشان ملنګه

اوس بس هنداري راکوه چې ترې دنیا سازوم
اوس مې په ټکو باندې نه کیږي ګذران ملنګه !

# غزل

چې شراب وي او کباب وي، زندګي دې بیا عذاب وي
که نشه کول عذاب وي ، زندګي دې بیا عذاب وي

محبت که د زړه درد وي، که ګلاب د زړه پرهر وي
خو چې ستا لاس کې ګلاب وي، زندګي دې بیا عذاب وي

چې په هر لوري یې بیایم ، خو چې خپله فیصله وي
چې مې خپله انتخاب وي، زندګي دې بیا عذاب وي

که په مینه مې دربولې ، ښه په مینه به درځم خو
که لانجه دې د حساب وي ، زندګي دې بیا عذاب وي

که همدا زما تپوس وي ، چې معنا د زندګۍ څه ؟
او همدغه ستا ځواب وي ، زندګي دې بیا عذاب وي

که ذره ذره همداسې ، لکه زه له تندې مرمه
که په ټول جهان سراب وي، زندګي دې بیا عذاب وي

که رښتیا ترې اخوا نور وي او د ژوند دا توره کرښه
لکه ستا پر مخ نقاب وي، زندګي دې بیا عذاب وي

# غزل

کیسه خو دومره اوږده نه وه خو بس جام و روان
ستا نوم هم یاد کړ چا ،او شعر هم د خیام و روان

عشقه ته ښه وې ، تر سهاره په وحشت پاتې وې
حسن خو سم لکه میلمه ، سر ماښام و روان

آدمه ! څه وه زندګي تر قیامته پورې !
خو ستا هابیل او قابیل دواړه ګام په ګام و روان

ستا پیغلتوب کې د خپل کور له سوخته ډیر یریدم
ته په اسمان روانه ، لمر زمونږ په بام و روان

د هغو سترګو میخورو څه معجزې وې الله !
چې د نشې په تماشه یې خاص و عام و روان

د خدای وعده وه چې تر څو په یاد وي، رنګ به نه شي
زړه و زما ، چې د دنیا دغه نظام و روان

زما تپوس که زماني وکړ چې څوک و جلال !
ته ورته وایه په دې لاره یو بدنام و روان

# غزل

ولې زما زړه ستا د مینې سور ګلاب نه و؟
په هغه وخت کې چې تندي نه و ، محراب نه و

هغه نغمه زما په زړه کې ځکه زخم شوه
هغه رباب و خو زما د غیږ رباب نه و

زه خو حکمت او مذهب دواړو ځوابي کړمه
چا وې چې ستا د تورو سترګو څه ځواب نه و؟

هغه سړي نه چې دنیا دومره په بله ځي
هغه سړي خو په زړه دومره هم خراب نه و

خداي هم هغوي په محلونو کې لیکلي ول
چا سره غم چې د حساب او د کتاب نه و

چې یې تعبیر وکړ دنیا ، زما په دې عمر
منم چې و به جان ، خو ستا د سترګو خواب نه و

جلاله ! څنګه دې دا یو زړه داسې روغ پرېښود
په دې وطن خو تا نه غټ خانه خراب نه و

# غزل

دومره مې وژړل دا ستا د بېلتانه له درده
سترګې چې پټې کړم خوږېږي مې باڼه له درده

لکه د پاڼې که خدای ژیړه کړلې ته له درده
لکه د ونې یې په ملا مات کړمه زه له درده
ته رانه مه پوښته چې ولې مې خوبونه نشته
ته راته ووایه څوك څنګه شي ویده له درده
په هغه شپه چې شړك باران په کشمالو وریده
د زلفو یاده! په خدای زړه مې چاودیده له درده
ستا تګ نه پس هم چې ساه اخلم نو رښتیا به وي چې
نه څوك د چا له غمه مري جانه او نه له درده
که ځې زما په خاطر، هره چهارشنبه زیارت ته
ما دې همدې لپاره هم نه کړې خدای ښه له درده

جلاله مینه به بدنامه شې په ټوله دنیا
په ډك محفل کې په زړه لاس مه ږده د زړه له درده

# غزل

ملنګ سړي يم پاچاهي راواخلم خس يې کړمه
زړه مې سل ځايه کړم، د کس او د ناکس يې کړمه

د چا نرۍ غونډې مسکا وي خو چې شعر ته راشي
د رجرمنۍ ماشينې غم يې کړم، کړس کړس يې کړمه

زه ښه پوهېږم چې د جنګ ګټلو وس نه لرم
خو خپل پښتون غرور مې نه پرېږدي چې بس يې کړمه
اوښکې دې وګرځم، ساده خو دومره هم نه يم چې
ستا د پردې خبره واخلم د مجلس يې کړمه

ياد پنځه وخته رواج دي، محبت خو نه دي
محبت داسې وي چې ساه يې کړم، نفس يې کړمه

يو څو خواره واره لفظونه کړم راټول جلاله!
د پرهر څړيکې د خپل قام د خپل ولس يې کړمه

# غزل

پرخه مدام د ګل د پاڼې پر لېمه خوړه وي

چې زما غم کې وي ستا اوښکه پر باڼه خوړه وي

نجونې خوړې وي منم ټولې، خو يوه نيمه بيا

لکه د يخ پغمان د سيند خوړې اوبه خوړه وي

چې د چا ياد وي، شاعري وي او ډيوې بليږي

هغه شپېه، هغه لمحه د بېلتانه خوړه وي

ما ويل خداي خو به دې زلفې په لاس راکړي کنه

ويل يې ګوره، ګوره وايه چې دې خوله خوړه وي

ستا شيشکتوب ته مې په دغې اثره ژوند کړی دی

چې وي په خوله لږه ترخه، هغه په زړه خوړه وي

کابل کې نور څه دي جلاله بې له ښکلو سترګو

زما غزله بې له مينې نور به څه خوړه وي؟

# غزل

په بلی دې لوپټه معلومه نه شوه
نن زما در زړه لمبه معلومه نه شوه

په خندا کې له انکار سره عادت یې
په سلګیو کې دې نه معلومه نه شوه

زما یو د کینې لفظ لکه اور خپور شو
زما مینه چا سره معلومه نه شوه

چې کوم روخ به مې د روح لمبو ته نیسي
د ګلرخې فیصله معلومه نه شوه

تا زما زړه در غزل سترګو کې ولوست
ما ته ستا در زړه کیسه معلومه نه شوه

سپوږمۍ راغله، په وعده د کلي منځ ته
سپوږمۍ لاړه خو هغه معلومه نه شوه

زنده ګي د اور شغلو یوړه جلاله!
که له لمره تاویده؟ معلومه نه شوه

# غزل

**بدلیږي چې د ښکلو بانه ګرو بهانه**

**نو ما ته هم خداې راکړه د سندرو بهانه**